# زېری

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده          د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنځنۍ (پنجشنبه) د غبرګولی ۵ - ٦مه ګڼه، پرله پسې (۴۴۵-۴۴٦) مه ګڼه، د ۱۴۰۴ل کال د غبرګولي ۳۰مه، د ۱۴۴٦هـ.ق. کال د ذي الحجې ۲۲ مه او د ۲۰۲۵م.کال د جون ۱۹مه


زه خـــــــــــــواستګير ربه له تا يم
قبلوې مې ته دعـــــــــــــــــــــا

يو زه څه، واړه عالــــــــــــــــــم
همګي محتاج له تـــــــــــــــــــا

قاسم علي خان اپريدي


ليکوال: پروفيسور سيال کاکړ

ژباړن: څېړندوی بشرمل زرغون


# د عمر خيام د څلوريزو پښتو منظومې ژباړې

(۱) برخه

د پارسي ژبې ادبياتو ته بې جوړې ستر شاعران او عارفان لکه: حافظ، سعدي، فردوسي، مولوي، جامي، سنايي، عطار او نورو ښه ډېره ځلا او ښاپستوالی وربښلی دی، له دغو سره سره بيا عمر خيام د پارسي ژبې په ادبياتو کې ښه او لوړ مقام لري، دغه شخصيت او بزرګ په نجوم، طب، رياضي او فلسفه کې استاد و او ډېر زيات آثار لري؛ خو بيا هم له دې سره سره عمر خيام نيشاپوری د خپلو پارسي څلوريزو له امله په اروپايي هېوادونو او لوېديځو خواوو کې ډېر زيات اوځارتوب تر لاسه کړی دی، نوموړي په خپلو په زړه پورو څلوريزو کې فلسفي او حکيمانه افکار په ډېر ساده او روان قالب کې ځای کړي او ويلي دي، په نړۍ کې نن سبا د دغه ستر فيلسوف د اوځارتوب لامل د نوموړي د زړه وړونکې او په زړه پورې شاعرۍ دی، دلته بايد وويل شي چې د خيام څلوريزې د نړۍ په ډېرو ژبو لکه: انګليسي، الماني، فرانسوي، روسي، اردو، عربي او... کې ژباړل شوې دي؛ له نېکه مرغه پښتو چې له پارسي ژبې سره ژبنۍ اړيکې لري او د ژبپوهانو له نظره د آريايي ژبو په يوه کورنۍ کې دي چې پښتو ژبې او پارسي ژبې په يوه ګډ چاپېريال کې سره پرمختګ او ښاپستوالی موندلی دی، بې له شکه بايد وويل شي چې زموږ پوهانو ژبې او پارسي ادبياتو ته نه هېرېدو نکي اوچت خدمتونه تر سره کړي او دا لړۍ تر يوې اندازې تر دې دمه پرمخيون لري.

رښتيا هم چې د پارسي ژبې ادبيات ډېر غني او قيمتي زېرمې لري، موږ نه شو کولای چې د پارسي ژبې معاصر ادبيات همداسې له نظره تېر کړو، همدا لامل دی چې د نړۍ څېړونکي او ليکوال د دغې ژبې په زړو او لرغونو ژباړو ځانونه يو بل ته نږدې کوي.

د پښتو ژبې څېړونکو او ليکوالو ته اړينه ده چې د پارسي ژبې له ارزښتمنو ادبي زېرمو څخه په خپلو ليکنو کې بشپړه ګټه واخلي چې لرغونې پښتو د ننۍ پارسي ژبې په شان پراخه او غني کړي؛ له نېکه مرغه زموږ د شاعرانو او ليکوالو دې ټکي ته پام شوی چې د دغې ژبې له تاريخي، علمي او ادبي منابعو څخه پوره ګټه اخلي.

د پښتو شاعرانو له منځه هغه کسان چې ړومبی ځل يې د عمر خيام څلور يزې په خوږه پښتو د نظم په جامه کې اوډلي؛ د پېښور، کوېټې، ننګرهار او کندهار سيمو شاوخوا دي، هر شاعر د خپلې پښتو ژبې د وړتيا پر اساس د عمر خيام څلوريزې په ډېر ښه فکر په پښتو اوډلې دي، کومو کسانو چې دغه څلوريزې په پښتو نظم ژباړلې؛ لاندې يې په لنډ ډول درپېژنم:

**د عمر خيام د څلوريزو ړومبۍ پښتو منظومه ژباړه**

د پښتو له معاصرو ويناوالو څخه چې په بشپړ ډول يې د عمر خيام څلوريزې په پښتو نظم کې اوډلې؛ هغه اروانښاد کاکاجي صنوبر حسين دی، دغه لوی عالم د مومندو له قبيلې څخه دی، نوموړی په (۱۸۹۷ ز) د جون په مياشت، ګلفرازخان کره چې د پېښور ښار څنډو ته نږدې (کره وله) نومې سيمه ده؛ زېږېدلی دی، دغه روښانفکره او هېوادپاله شخص په (۱۹٦۳ ز) د جون په (۳ مه) له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

نوموړی ليکوال د ښاغلي حنيف خليل په وينا ړومبنی پېژندل شوی کس دی چې د عمر خيام ۳٦۲ څلوريزې يې په پښتو نظم ژباړلي دي، ښه مې په ياد دي چې د (۱۹۵۸ ز) په وروستيو کې څو دانې د خيام د څلوريزو پښتو منظومې ژباړې د پېښور په ځينو مجلو کې د کاکاجي صنوبر حسين په نامه خپرې شوې وې، د خيام پر دغو څلوريزو چې اروانښاد کاکاجي پښتو کړې وې؛ اوځار ليکوال ښاغلي همېش خليل په (پښتانه ليکوال) کې په دې ډول څه ليکلي وو:

((کاکاجي د عمر خيام د رباعياتو ترجمه په پښتو نظم کې مکمله کړې ده)).

مګر ځوان ليکوال ښاغلی حنيف خليل په دې باره کې چې (د کاکاجي صنوبر حسين مومند شخصيت او فن) په نامه يې خپل کتاب خپور کړی؛ دا رنګ ليکي:

((د عمر خيام د څلوريزو منظومې ژباړې د نړۍ په ډېرو لويو ژبو کې شوې دي چې په همدې اساس له يو ځل نه زياتې منظومې ژباړې چې په دغو ژبو کې شوي؛ هغه په پښتو ژبه کې دي، په همدې اساس د عمر خيام د څلوريزو کومو کسانو چې منظومې ژباړې کړي؛ د پروفيسور افضل رضا د حوالې په اساس:

**۱- د عمر خيام څلوريزې، محمدنذير.**

**۲- د عمر خيام څلوريزې، مولوي حبيب الله.**

له دغو دوو ژباړونکو پرته دوه نور منظوم ژباړن زموږ په وخت کې خپلې منظومې ژباړې هم خپرې کړې چې نجم الرحمن مواج او عبدالباري جهاني نومېږي، دوه نور منظوم ژباړن ښاغلي عبدالباري جهاني په خپلو (مخکېنۍ خبرې) کې د عبدالقدير پيتال (په آره کې عبدالقديم پتيال) له يادولو سره راپېژندلي دي چې يو ابوالخير ځلاند او بل محمد صديق پسرلی دی.

په دغو ټولو ژباړونکو کې د نجم الرحمن مواج، عبدالباري جهاني او د ابوالخير ځلاند ژباړې موندل کېږي او د پاتې درې نورو ژباړې نه موندل کېږي چې له دغو سره د خيرالحق ګوهر، عقاب خټک او سيد رسول رسا ژباړې هم ګډې (شاملې) دي؛ مګر بيا هم له دغو ټولو نه ړومبی د عمر خيام څلوريزې کاکاجي صنوبر حسين مومند په پښتو نظم ژباړلي دي او د ښاغلي صنوبر حسين مومند ژباړه ځکه په زړه پورې ده چې په دې ژباړه کې شاعرانه فن، ادبي خوږلني، د خيام بشپړ خيال او د ژبې کره والی ليدل کېږي چې له دغو يادو ژباړو نه دا جلا او په زړه پورې ده)).

له دې وروسته ښاغلي حنيف خليل په دې باره کې داسې معلومات راوړي دي:

((کاکاجي صنوبر چې له ۳٦۲ پارسي څلوريزو څخه پښتو منظومې څلوريزې ژباړلي؛ هغه تقريباً ۳۰۰ څلوريزې شته دي، پاتې له منځه تللي، دغه يادې څلوريزې اوس ناچاپ پاتې دي)).

حيف!! کومې د عمر خيام څلوريزې چې کاکاجي صنوبر حسين په پښتو ژبه په نظم اوډلي دي؛ هغه اوسمهال په کتابي بڼه نشته؛ په همدې اساس زه دا پرېکړه نه شم کولای، کومې منظومې ژباړې چې په پښتو ژبه کې بېلا بېلو شاعرانو کړي؛ کومه يوه يې غوره او ښه منظومه ژباړه ده؛ دا ځکه چې دمګړۍ د کاکاجي صنوبـــر حسين بشپړه منظومه ژباړه زما په واک کې نشته چې زه يې له نورو پښتو منظومو ژباړو سره پرتله کړم؛ بيا هم د ښاغلي حنيف خليل پرېکړه (قضاوت) اوس ځکه سمه نه برېښي چې: (له ټولو ژباړو څخه جلا او په زړه پورې ده)، هو! ښاغلي حنيف خليل په خپل کتاب کې د خيام د څلوريزو يادونه د پروفيسور افضل رضا په حواله کړې ده چې حبيب الله د خيام څلوريزې په پښتو ژباړلي دي، زما په نظر دا سهي نه ده؛ بلکې حقيقت دا دی چې اروانښاد افضل رضا په خپله تېروتی دی او بيا وروسته همدغه تېروتنه ښاغلي حنيف خليل تکرار کړې ده.

ښکاره ده چې موږ په پښتو ادبياتو کې د حبيب الله په نامه کوم ويناوال (ناظم) نه لرو چې د خيام څلوريزې دې په پښتو ژباړلې وي، زما د معلوماتو له مخې مولوي حبيب الله همغه مولوي احسان الله خټک دی چې د خيام څلوريزې يې په پښتو ژباړلي او د (دا دنيا) په نامه يې خپرې کړې دي؛ په همدې اساس ښاغلي حنيف خليل په خپل اثر کې د عقاب خټک يادونه هم کړې ده چې نوموړي هم د خيام څلوريزې په پښتو ژباړلي دي؛ مګر زما په نظر دا هم سهي نه ده؛ بلکې حقيقت دا دی، کله چې مولوي احسان الله خټک د خيام څلوريزې په

۲مخ

څېړندوی پښتون پښتون

# په ښوونيز بهير کې د پښتو تدريسي مضامينو شننه

علم پوهه باله شي خو ځينې علوم سره له دې چې پوهوي دې هنر او کمال هم دربښيي. ساينسي مضامين اکثره وخت د اصل ذوقو نه خوښېږي، ښايي علت يې دا وي چې په تجربه ولاړ علوم جامد دي، خيال او عاطفې ته پکې ځای نه وي، وچ کلک عبارتونه وي، مفهوم په کمال ذهن ته نه درپيچکاري کوي، بس مخامخ درته سپينه مامدينه وايي، که دې زړه ښه وي يا بد، د خپلې اړتيا له مخې يې بايد زده کړې.

خو د ساينس تر څنګ داسې علوم هم شته چې له کورني چوکاټ نيولې د ټولنې په ژوندانه پورې تړلي ټول مسايل پکې بحث کېږي، د ژوند طرز، طريقه او لاره دربښيي، عاطفه دې په خوځښت راولي، ويښوي دې، د نورو په غم دې ور ګډوي، انساني شعور دې په پورته بيايي، له خپلو نوميالیو او اسلافو دې خبروي، تاريخ درته مخته ږدي او د روانپوهنې په ځينو جدي او ضروري مسايلو بحث درسره کوي.

دا علم بل څه نه دي، ټولنيز او ارواپوهنيز علم دي، هغه علم چې د بشر پېژندنې په لار کې تر هر چا معتبر او موثق دي، د حسب کمال علم دي، د علم او پوهې د لارويانو د لارې مشال دی او په هره سختۍ او اسانۍ کې ورسره مل دي .

د بشري نړۍ د اوسنيو تمدنونو په ايجاد کې ټولنيزو علومو په ځانګړي ډول (ادبياتو) لوی نقش لوبولی، دې علم انسانان لومړی په ذهني لحاظ د ژوند د بدلانه مفکورې ته په تمايل قايل کړل او د مفکورې له زېږېدو وروسته يې د ساينس پر مټ د پرمختګ لوړ پړاوونه ووهل. ښايي همدا وجه وي چې نړۍ بشري علومو ته په ډېر درنښت قانع وي او هغه د ژوند د تفسير، بشري ظرفيتونو د لوړوني او اصلي موخو ته د رسېدنې په لار کې د ځان ملګري او خواخوږي بولي .چون موږ هم تر هرڅه وړاندې انسانان يو او د نړۍ د تمدنونو په تاريخ کې لومړنی تمدن رامنځته کوونکی نسل يو، نو ځکه زموږ بشري علوم هم له نورو لوړ دي، په اروپوهنه، شعر، ژبه، فنونو او کره کتنه کې بې مثاله يو او په دغه برخو کې ډېر ښه ځلېدلي يو. زموږ د لرغونې او کلاسيکې دورې نژدې هر ليکوال او شاعر د ټولنيز ژوند تجربې زموږ او راتلونکو نسلونو لپاره د لارې بل مشالونه دي، د هغوی د ژوند له طرز و تفکر يې زده کوو، د هغوی په رامنځته کړو ارزښتونو پسې ځو او د ژوند چل ترې زده کوو .

د بشري علومو او ادبياتو اړوند دا ټولنيز اثار بل څه نه دي، زموږ د ښوونځيو لپاره ليکل شوي تدريسي پښتو کتابونه دي، چې د هر ټولګي لپاره پکې د هغوی له سوېې سره سم مضامين راوړل شوي دي. دا اوس چې زه د لسم ټولګي د پښتو مضمون له لوستلو فارغ شوم، وپوهېدم چې دا علمي کتابونه زموږ د ښوونځيو له زده کوونکو سره د ژوند په لار کې څومره ارزښتمن دي او څنګه په کمال مو د پښتنې معاشرې له اديبانو، فلاسفو، د نړۍ د ادبياتو له نوموتو څېرو، ادبي ټوټو او ادبي فنونو خبروي. راځئ په يو، يو عنوان لږه رڼا واچوو:

د دې مضمون په لومړي تدريسي مخ کې مناجات راغلی، مناجات له خدای تعالي نه د دعا غوښتلو لويه او مؤثره وسيله ده، پخوانيو کې دا کمال و چې خدای تعالی نه به يې په منظومو الفاظو خپل ضرورتونه غوښتل، خو معاصرو ليکوالو د کار د اسانۍ لپاره د نثر لمن هم نيولې او مناجات يې په نثر کې وړاندې کړي . د دې لوست د زده کولو ګټه دا ده چې لوستونکو کې د هغوی او باري تعالي تر منځ يوه پټه او مؤثره د مباحثې دريځه خلاصېږي او چې د ليکلو توان پيدا کړي، خپل رب ته په اسانۍ د زړه غوټه پرې خلاصـوای شي. زه فکر کوم چې د مناجاتو موخه تر اصلي موخې هم مهمه پدې ده چې لوستونکي ته د داسې يوه متن د ايجاد په لار کې يوه نظريه ورکوي او تداعي کوي چې له خدای جل جلاله نه د خپلو موخو د غوښتلو لپاره دغسې يوه لار هم شته. د کتاب دويم تدريسي لوست کې نعت شريف راغلی، نعت د پېغبر (صلي عليه وسلم) ثنا او ستاينه ده او پدې ډول د دې عنوان د لوستلو ګټه اغېزمنه او ثابته ده، چې موږ په روحاني ډول له اسلامي ارزښتونو سره تړي او د خدای له رالېږل شوي استازي سره خواخوږۍ او همدلۍ ته موکېنوي. زموږ دين يو ملي او جهان شموله ارزښت دی، افغانان عقيدتمن خلک دي، د دين په لار کې له خپلو ټولو ارزښتونو تېرېږي، نو ضرورت دی چې په دې تدريسي کتاب کې د زده کوونکو ديني تنده ماته شي او د همدې موخې لپاره د کتاب دا برخه مهمه او ارزښتمنه ده. دا نعتيه کلام د خواجه محمد بنګښ دی، بنګښ د کلاسيکې دورې يو ډېر پاک نفسه صوفي او متدين شاعر دی، نو دې لوست کې دا کمال دی چې د ديني ارزښت ترڅنګ مو د کلاسيکې دورې د اديبانو له شعر او د هغوی د ويلو له طرز سره هم اشنا کوي. په ورپسې درېيم لوست کې د سولې تر عنوان لاندې دوه مخيز عبارت راغلي، د سولې په ارزښت او انساني ژوند کې د هغوی په ګټو پکې بحث شوي، ځکه دلته تر بل هر وخت زيات د سولې ضرورت دی او اړتيا ده چې سوله په يوې جامع، ملي او بين المللي کچه د بحث وړ وګرځي، نو زده کوونکو ته هم مهمه ده چې د سولې د راتلو په لاره کې په يوه نوې مفکوره کار وکړي او سولې ته په درنښت او ارزښت قايل شي. نو حياتي ضرورت دی چې سولې، ژوند، عمارت او ابادۍ لپاره د زده کوونکو په ذهنونو کار وکړو او خولې ورسره توی کړو.

ورپسې څلورم لوست کې (ادب څه ته وايي) يو ډېر مهم بحث راغلی، ادبيات څه دي؟ د ادب دنده څه ده؟ ادب له ژوند سره اړيکه لري که نه؟ د ادبياتو ماهيت څه دی؟ له ادب نه موږ د کومو لويو موخو لپاره کار اخيستی شو؟ دا او دې ته ورته پوښتنې همدا فصل راته ځوابوي، زه فکر کوم؛ يو مسلکي کادر په اسانۍ د زده کوونکو دا وړ پوښتنې په اسانه ځوابولای شي او هغوی ته د ادب د زده کړې په برخه کې مثبته انرژي ورکولای شي .دلته چې کوم بحث په کتاب کې راغلی، د پوهنتوني تدريســـي کتاب معادل دی او که د ښوونځي زده کوونکي يې په زده کړه وتوانېږي، په اسانۍ پوهنتون ته لار پرې پيدا کولای او هلته د ادبياتو همدا

۳مخ

## د عمر خيام د څلوريزو پښتو...

پښتو ژبه ژباړلي؛ نو ارواښاد عقاب خټک يو پوه او په پارسي ژبه ښه پوهېده چې د عمر خيام د څلوريزو د ژباړې پر وخت يې له مولوي احسان الله خټک سره ډېره مرسته کړې ده، د دغو خبرو د زبات لپاره د مولوي احسان الله خټک ژباړه شته او د نوموړي کتاب د (دا دنيا) په نامه په پېښور کې په (۱۹٦۴ ز) کې چاپ شوی او زما په ذاتي کتابتون کې يې يوه نسخه دمګړۍ خوندي ده.
ښاغلي حنيف خليل په خپل کتاب کې د دوو نورو ارواښاد سيد رسول رسا او ارواښاد خيرالحق ګوهر چې د پښتو ژبې نوموتي وېناوال وو؛ د ژباړونکو يادونه کړې چې دغو دواړو هم د عمر خيام څلوريزې په پښتو ژباړلې دي؛ مګر زه دې لورې کې فکر کوم چې نوموړي يواځې پر شفاهي معلوماتو تکيه کړې او بيا يې په خپل کتاب کې ثبت کړي دي، دې اړخ کې نو څېړونکي ډېرې ژورې هوښيارتيا ته اړتيا لري چې حقيقت څنګه زبات ته ورسوي چې رښتيا خيرالحق ګوهر او سيد رسول رسا د خيام څلوريزې په پښتو ژباړلې دي؟.
او د ښاغلي عبدالقديم پتيال د ليکنې پر اساس د پښتو ژبې غوره شاعر ښاغلي محمدصديق پسرلي چې د کندوز دی؛ د خيام څلوريزې د پښتو شعر په قالب کې اوډلې دي؛ مګر په کتابي بڼه تر اوسه چاپ ته نه دي رسېدلې، هيله من يم چې يوه ورځ په کتابي بڼه چاپ شي، له دې سره د ښاغلي محمدآصف صميم د خولې خبره ده چې منهدس سلطان جان کليوال هم د خيام څلوريزې په پښتو ژباړلې دي، استاد صميم په دې باره کې نقل کوي چې ښاغلي استاد محمدصديق پسرلي د ښاغلي کليوال د دغو څلوريزو نسخه ما ته راکړې وه چې زما نظر پرې واخلي؛ مګر بيا يې پته و نه لګېده چې د مهندس کليوال دغه ژباړه چاپ شوه او که نه؟.
زه فکر کوم کوم کس چې ښاغلي پتيال ته د استاد پسرلي د عمر خيام څلوريزو د ژباړې ويلي وو؛ همدغه د مهندس کليوال ژباړه نه وي چې نوموړي ښاغلي صميم ته د څه ليکلو لپاره استولې وه او دا هم امکان لري چې راوي ښاغلي پتيال ته سهي خبر نه وي ورکړی او په دې باره کې سهواً د کليوال ژباړه د ښاغلي استاد پسرلي ژباړه نومول شوې وي، نور خدای جل جلاله ښه پوهېږي.
په دې باره کې د پښتو ژبې څېړونکي بايد بشپړ لټون وکړي او حقيقت روښانه کړي چې رښتيا استاد پسرلي د خيام څلوريزې په پښتو ژباړلې دي؛ که يه؟.

هو! مخکنيو پښتني شاعرانو د خيام څلوريزې په کتابي بڼه چاپ کړې دي چې ښاغلي همېش خليل يوه کوچنۍ رساله د کاکاجي صنوبر حسين مومند په نامه خپره کړې ده، دې اړخ کې زه ډېره هڅه کوم چې هر کتاب به په ډېر ښکلي شکل تاسې ته دروپېژنم چې ړومبی يادونه د ښاغلي همېش خليل د رسالې ده او وروسته به نورې ژباړې چې په کتابي شکل خپرې شوې دي؛ په تفصيل دروپېژنم.

**د کاکاجي رساله ډوله څلوريزې**

لکه څنګه چې په پورتني متن کې روښانه شوه چې د ارواښاد کاکاجي د خيام ژباړل شوې څلوريزې د کتاب په بڼه نه دي خپرې شوې؛ خو له نېکه مرغه يوه تازه رساله ماته ښاغلي ډاکتر ميا سهيل انشأ له پېښوره راستولې چې په دې رساله کې له ډېر ارزښتوالي او مطالبو پرته يکې د خيام ۲۴ څلوريزې شته دي.
د دغې رسالې اوډونکی ګران، لوی څېړونکی او غوره ليکوال ښاغلی همېش خليل دی، دغه ګټوره رساله پروفيسور قاسم بنوي په (۱۹۹۱ ز)، د جون مياشت، د پښتو ادبي مرکز، نورنګ بنو سرای، د کاکاجي صنوبر حسين مومند په نامه خپره کړې، دا رساله کوچنۍ او ۵٦ مخه ده، په جدون پرنټينګ پريس، پېښور کې د چاپ په ګاڼه پسولل شوې ده.
د رسالې په پيل کې د کاکاجي صنوبر حسين مومند په اړه يو څه معلوماتي وېناوې د پروفيسور قاسم بنوي او ښاغلي همېش خليل له خوا راغلې دي، له دې وروسته په يادې رساله کې د ارواښاد کاکاجي صنوبر حسين مومند ۳ غزلې او ۲۴ پښتو څلوريزې اوډل شوې دي، کاشکې!! اوډونکي له پښتو څلوريزو سره د خيام پارسي څلوريزې هم راوړې وای چې ګرانو لوستونکو به پښتو څلوريزو سره ښې پرتله کولای شوای، د رسالې په وروستيو کې د ارواښاد کاکاجي د پښتو نثر څو بېلګې او يوه درنه ليکنه د (کاکاجي د ښاغلي همېش خليل له نظره) تر سرليک لاندې راغلې دي، زه د ښاغلي همېش خليل زيارکښنه ستايم او دعا کوم چې خدای دې روغه، بشپړه، پوره سته او اوږد عمر ورکړي او له ښاغلي همېش خليل مې دا غوښتنه ده چې په خپل ژوند کې د کاکاجي صنوبر حسين مومند ټولې ژباړل شوې څلوريزې راټولې او چاپ کړي، ياده غوښتنه نو داسې ده چې دغه غوره کار يوه علمي موسسه او يا کوم شتمن پښتون په غاړه واخلي چې له دې سره به د کاکاجي صنوبر حسين مومند او د عمر خيام ارواوې خوښې او خوشحاله شي.
په اخره کې د کاکاجي صنوبر حسين مومند له دغې رسالې يو څو بېلګې له پارسي څلوريزو سره يوځای ستاسې خدمت ته وړاندې کوم:
په پای کې يواځې د خيام څو څلوريزې چې ارواښاد کاکاجي په پښتو نظم ژباړلې دي؛ ستاسې خدمت ته وړاندې کوم:

جام په لاس په خوا د ګل مې عمر تېر شه
زمانې د لاسه کار مې تېر و بېر شه
چې په ميو مې شفا نه شوه حاصله
اوس به څه ژړا کوم چې تېر شه، تېر شه

***

غريبی کې مو هډوکي شو زاړه
په دې تشو شابسو نه شو ماړه
په ټول عمر مو ښه ورځ و نه ليدله
لا کوم ځای ته به مې وړي د اجل وړه

***

**د خيام څلوريزې په کتابي بڼه**

ړومبی کس چې د عمر خيام څلوريزې يې په پښتو ژباړلې او هغه يې په کتابي بڼه خپرې کړې؛ د کوهاټ په لمنو، د (ټيري) د سيمې يو له شاعرانو څخه و چې مور يې د مولوي احسان الله خټک، د حاجي عبدالغني زوی او د مولوي ياسين لمسي په نامه پېژنو، نوموړي په پښتو کې د لومړيتوب ګواهيليک په خپل لاس اخيستی و، د ښوونځي زده کړې يې په برياليتوب پای ته رسولې وې او پارسي يې تر يوې اندازې په ښوونځي کې لوستې وه.
مولوي احسان الله خټک د خپل اثر په (سر خبرو) کې په پښتو داسې ليکل کړي: ((زه د يوې علمي کورنۍ د فرد په حيث له پارسي ژبې سره مينه لرم، يوه ورځ مې د خيام د څلوريزو ژباړه واورېده، وروسته مې د يوه کتاب په سر خبرو کې د خيام څلوريزې چې د نړۍ په بېلابېلو ژونديو ژبو ژباړل شوې وې؛ ومې ليدې، دلته مې د ډېر ورېتوب احساس وکړ؛ نو له دې وروسته مې د خيام د څلوريزو په ژباړلو پيل وکړ)).
دلته بايد ووېل شي چې ارواښاد سرفرازخان چې د پښتو په ادبي دنيا کې د عقاب خټک په نامه زيات اوڅارتوب لري؛ له مولوي احسان الله خټک سره د خيام څلوريزو د ژباړلو پر وخت يې لږو ډېره مرسته کړې ده، پخپله ارواښاد عقاب خټک د پښتو ژبې غوره ليکوال و او د پارسي په زده کړه يې ښه برلاسی درلود، په دې باره کې پخپله مولوي احسان الله خټک د سر په خبرو کې دا رنګ ليکي: ((په بنو کې د پارسي او پښتو ژبو يو ژوندی عالم ښاغلی سرفرازخان عقاب خټک زما د مرستې لپاره تيار شو، نوموړي به ماته د ژباړې ځينې نيمګړتياوې را په ګوته کولې او د ښې ژباړې لپاره يې همېشه کره او غوره مشورې راکولې)).
له همدغو څرګندونو وروسته راځئ چې د مولوي احسان الله خټک يادې څلوريزې په بشپړ ډول دروپېژنم:

**(۱) دا دنيا**

هو! مولوي احسان الله خټک د خيام څلوريزې په پښتو د (دا دنيا) په نامه د ۱۹٦۴ ز، په وروستيو کې، د پېښور په ښار کې خپره کړې ده، خپرندوی يې په خپله احسان الله خټک دی، دغه اثر ۲۰۸ پاڼې لري، ۵۰۰ ټوکه خپور او د څلوريزو قيمت يې يواځې درې نيمې روپۍ دی.
مولوي احسان الله خټک په خپل اثر کې ۱۸٦ د خيام څلوريزو ته ځای ورکړی، نوموړي زيار کښلی چې د پارسي څلوريزو بشپړ مفهوم له لاسه و نه باسي او د خيام حيکمانه افکارو ته کوم ادبي زيان و نه رسېږي، ژباړن د خپل اثر په هره پاڼه کې د خيام څلوريزه راوړې، بيا يې ترې لاندې پښتو منظومه ژباړه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړې ده.
په اخره کې به له (دا دنيا) نه د خيام د څلوريزو يوه پښتو منظومه ژباړه د بېلګې په توګه وړاندې کړو:

آن بُت دلم زبهر او زار شده است
او جای دگر به غم گرفتار شده است
من در طلب علاج خود چون کوشم
چون آن طبيب ما ست بيمار شده است

***

په کوم زړه پسې چې زار دی زما زړه
بل ځای غم کې ګرفتار دی زما زړه
زه به څه وکړم علاج د ځان يارانو!
چې طبيب زما بيمار دی زما زړه

(پاتې برخه په بله ګڼه کې)

## په ښوونيز بهير کې د پښتو ...

پوهنځی په اسانۍ لوستلای شي.
د کتاب په پنځم لوست کې خوشحال خان راغلی، خوشحال خان د پښتو ادبياتو په کلاسيکه دوره کې يو داسې څوک تېر شوی چې که خدای مکړه؛ نه وای، زموږ ادبيات به ډېر کم او د دومره برم خاوند نه وای.
دې لوست کې خوشحال خان پېژندل شوی، د هغه د کلام بېلګې راوړل شوي او د هغه په ليکلو اثارو يې لړ او کوچني بحث کړی، که څه هم دا عنوان د خوشحال پېژندې په کار کې بسنده نه دی خو په راتلونکو زده کړو او د خپلو مشاهېرو دادبو لپاره ډېر ارزښتمن دی، که ښوونکي مسلکي او په خوشحال پېژندنه برلاسي وي؛ د دې لوست ترڅنګ زده کوونکو ته د خوشحال د ژوند په ډېرو اړخونو غبرېدای شي او په زده کوونکو کې د هغه د نبوغ تخم کرلای شي.
پښتو نحوه يا جمله پوهنه د کتاب شپږم لوست دی، دا لوست د نحوې لغوي او اصطلاحي معنا سربېره د جملې په اسمي/فعلي او مبتدا او خبر غبرېږي. دلته د نحوې د پېژندلو په لومړنيو او ابتدايي مبحث بسنه شوې او دا څېرکی ادبياتو ته د راتلونکو ځوانانو سره د هغوی په تدريسي بهير کې رغنده رول لوبوي او د هغوی کار اسانوي، څکه لړ تر لړه به د نحوې په موضوع او اجزاوو بحث ته فکراً اماده وي .
ورپسې اووم لوست بيا (ملي نظمونه) عنوان ته ځانګړي شوي، د ادبي فنونو دا بحث خورا خوندور او زده کوونکو ته جالب دي .د کتاب مؤلف لومړی د نظم په لغوي او اصطلاحي معنا غبرېدلي، بيا يې د ملي نظمونو په جوړښت او د فولکلوريکو ادبياتو په عامو او خاصو سندرو نظم او نثر بحث کړی.
د کتاب اتم لوست کې د ولسي کيسي (فولکلور پېژندنې) عنوان لاندې لومړې په فولکلور پوهنه، تعريف او فولکلوري ادبياتو په ډولونو بحث شوی، ورپسې د وردګو د چک ولسوالۍ د ولسونو د ښوروا فولکلوريکه کيسه راغلې ده.
يوه ليکوال ويلي، که غواړئ د يو ملت په باب په ډېر څه پوه شئ؛ فولکلور يې ولولئ. د داسې لوست په لوستلو سره زده کوونکي فولکلور سره اشنا کېږي او هڅېږي چې په خپله ټولنه کې فولکلوري بېلګې وپېژني او راټولې يې کړي.
د کتاب په نهم لوست کې د پښتو ژبې معاصر نوميالي اديب او شاعر سيد بهاوالدين مجروح چې د سيد شمس الدين مجروح زوي دی ځای ورکړل شوی او پرې بحث او خبرې شوې.
د کتاب لسم لوست عروضي نظمونو ته ځانګړی شوی، عروضي نظمونه د شرقي شاعرۍ کمال دی، دې ته مشترک نظمونه هم ويلی شي او دا څکه چې د عربي،فارسي او پښتو ژبو تر مينځ مشترک دی .معنا او محتوا يې نده مشترکه، فقط چوکاټونه يې مشخص او مشترک دي، د کتاب مؤلف د مشترکو نظمونو په ډولونو غبرېدلي او هر يو يې له يوې ځانګړې نمونې سره په کتاب کې درج کړي دي. غزل، قصيده، رباعي، مخمس، مسدس، مسبع، مثمن، معشر، ترجيع بند، ترکيب بند، مثنوي او قطعه هغه ډولونه دي چې کتاب کې پرې بحث شوی او مثالونه يې راوړل شوي دي، خوندوره داده چې د هر نظم چوکاټ ورسره تشريح شوی. مشترک نظمونه د عروضو د علم اساسي موضوع ده چې په ادبياتو کې په پراخه کچه تر تدريس لاندې نيول کېږي، خو د دې تدريسي کتاب ارزښت پدې کې دی چې زده کوونکي لا له وړاندې دغسې يوه کار ته هڅوي او ورسره اشنا کوي يې.
د کتاب يوولسم لوست "هنري نثر" ته ځانګړي شوي، هره هغه ليکنی وينا چې هنري ارزښت او د ادب ماهيت ولري، هغه هنري نثر باله شي . کتاب کې له هنري نثر وړاندې په متکلف او سجع لرونکي نثر خبرې شوي چې سجع يې د بايزيد روښان او متکلف نثر د خوشحال بابا و، خو د دې دواړو په خلاف هنري نثر په معاصره ادبي دوره کې رامنځته شو، په لومړي ځل پېښور کې مولوي أحمد وليکه او افغانستان کې د شلمې پېړۍ په لومړيو کې هنري نثر ليکل شروع شول، دا وخت پښتو د اخبار، راډيو، ژورناليزم، د ښوونځي د زده کوونکو او ادبياتو ژبه وه او په را وروسته وخت کې دا لړۍ لا پسې وغزېده .د هنري ارزښت د اصلي متن په حاشيه کې د ښوونکي تر عنوان لاندې د هنري نثر يوه بېلګه راوړل شوې او زده کوونکو ته عملاً ښودل شوي دي. د هنري نثر په جزياتو بحث پکې نه شته او بايد چې نه وي، څکه د جزياتو بحث د ادبياتو د پوهنځي مسلکي کار دی چې بايد خپل زده کړيالان پرې وپوهوي، د ښوونځو د زده کوونکو له سويې سره همدومره مناسبه ده چې د هنري نثر غونډې يو مهم مضمون سره اشنا شي او وپوهول شي چې دا اوسني نثر کلونه وړاندې په دې شکل نه و، بلکې د زماني له ادلون، بدلون سره يو ځای پکې لازم تغيرات راغلي او دا لړۍ تر اوسه د بهبود خوا ته روانه ده.
دولسم لوست کې د پښتو ادبياتو لرغونې دورې ته يوه لنډه کتنه شوې، د امير کروړ سوري، نصر لودي، شېخ رضي، شېخ بستان بړېڅ، اخون اسماعيل، هاشم سرواني، شېخ اسعد سوري، ښکارندي غوري او نورو نومياليو شاعرانو او اديبانو د شعر نمونې راغلي دي . کتاب کې وضاحت شوی چې د لرغونې دورې ادبيات په (غور/کسي- غره او ملتان) کې رامنځته شوي او د دې هر يوه لپاره يې خپل تفصيل ليکلی دی .په دې استناد د کتاب دا برخه ښاغليو زده کوونکو ته خورا مهمه او اغېزمنه ده، ترڅو دوی د پښتو او پښتنو له ليکلي تاريخ خبر شي.
په ترتيب سره د کتاب په وروستي ليکلړ کې ښځې او لنډی، افضل خان خټک او تاريخ مرصع، پښتو لنډه کيسه، ويليام شکسپير، مېرمن سپينه، کاڼه (لنډه کيسه)، لفظي صنعتونه، هجري او د هغه حبسيات، پښتو سفرنامې، معنوي صنعتونه، چاپېريال ساتنه، د هوتکو ادبي دربار، د ماين خطرونه، اصلاحات او محاورې، د روږديوالي لاملونه، پښتو لهجې، وييپانګه او اخځليکونه راغلي دي .دا هر يو مضمون په خپل ذات کې د زده کوونکو د راتلونکي ژوند لپاره حياتي ارزښت لري، لنډۍ ډېر مهم ولسي شعر دی، فولکلوريکه پانګه ده، اکثره ښځمنو ويلې ده، بايد وساتل شي .
په کلاسيکه دوره کې د افضل خان خټک د مرصع تاريخ ارزښت حياتي او بارز دي او دا څکه چې پدې کتاب کې د منځنۍ دورې نژدې د ټولو تېرو شويو واقعاتو بيان راغلي دی .دا کتاب څو دفتره دی او په حساب کې دا د پښتنو په باب لومړنی ليکل شوی تاريخي اثر دی چې موږ ته د زمانې له اړ و دوړ نه بچ په لاس راغلي دي .لنډه کيسه هم د کيسه ييزو (داستاني ادبياتو) يوه مهمه برخه ده، انګرېزۍ کې ورته شارټ سټوري وايي، موضع، پلاټ، کرکټرونه، خيال، پيل، منځ او پای او ځينې نور عناصر بايد ولري، په پښتو ادب کې لومړنۍ لنډه کيسه سيد راحت زاخيلي ليکلې، د هغه د لومړنۍ لنډې کيسې نوم "کونډه نجلۍ" وه چې بيان يې د پښتو په ځينو کتابونو او رسالو کې راغلی دی .بره پښتونخوا کې بيا لنډه کيسه علامه عبدالحي حبيبي صيب ليکلې چې "توريالۍ پښتنه" نومېږي .خلاصه دا چې د پښتو مضمون له لومړي ټولګي نيولې تر دولسمه په تدريجي ډول د زده کوونکو له سويې سره سم چلند کړی، دلچسپه، مهم او تاريخي موضوعات يې پکې ځای پر ځای کړي، د لغاتو پانګه يې د کتاب په اخره کې ور اچولې چې يو ښوونکي سره د ستونزمنو لغاتو په معنا کولو کې مرسته کولای شي او له ټولو مهمه دا چې پښتو مضمون د زده کوونکو د اخلاقو په لوړلو او د ژوند په بهبود کې غوره رول لوبولای شي .
ما اورېدلي که يو وطن زرځلې وران او ويجاړ شي، بيا به لکه جنت جوړ شي خو که اخلاقي بنستونه ونړېدل، بيا به يې څو نسلونه ګناه جبران کوي، نو چې موږ د علامه الفت صاحب، حبيبي صاحب، خادم صاحب، بېنوا صاحب، حمزه بابا، رحمان بابا، کاظم خان شيدا، علي خان، حميد مومند او ګڼو لويو پښتنو عالمانو اخلاقي فلسفي ولولو او زده کوونکو ته يې د زړه له اخلاصه تدريس کړو؛ اخلاقي بنسټونه به مو ډېر قوي شي او هيڅوک به يې د نړولو هڅه ونکړي.

پای

غرمل وشرنګېد، ده یوه خوا بله خوا پسې وکتل، پیدا یې نه کړ، په دې کې یې زوی په منډه راوړ.
پلاره! زنګ دی.
آفرین، ته راکړه وګورم چې څوک دی؟
د اوکې پر بټن یې ګوته کش کړه لا یې سلام نه و کړی چې د اخک غږ راغی، وروره لاندې درته ولاړ یم راکښته شه.
- سمه ده درغلم.
معمولاً مازیګرې به سمسور او اخک پارک ته تلل، هم به یې قدم واهه او هم به یې د پارک له ښنه طبیعته خوند اخیست. خوند چېرته و، ذهني سکون یې لټاوه. له یوې خوا دفتري بوج او له بلې خوا سیاسي حالاتو یې د ذهن دریځې نړولې وې، خو دوی یې د سمون او رغون کوښښ کاوه.
دواړو ښایسته شېبه قدم وواهه، د پارک په یوې څنډې کې یې ببر چمن ته پام شو، پلتۍ یې په کې ووهلې، سمسور په غرمل کې بوخت شو، راغلي مسجونه یې یو یو له نظره تېر کړل، غږیز پیغامونه یې غوږ ته نږدې کړل، کله به مسکی شو او کله به یې تر شونډو لاندې بد رد وویل. مهمو هغو ته یې ځوابونه هم ورکړل، خو د ځینو ځواب یې اړین ونه باله. غرمل یې جیب ته کړ، اخک ته یې پام شو د سوچونو په نړۍ کې ډوب و، په خندا یې ور غږ کړ: بیا دې لکه چې ټېلر چپه شوی؟!
- نه یار! ټېلر له کومه شو، د کور مالک ځواب کړم.
- ولې، په څه؟
- یوه اوونۍ مخکې یې وغوښتم، ویل یې د کورونو کرایې لوړې شوې، دا چې ته ښه سړی یې او دا څو کاله زما په کور کې اوسېدلی یې، نو لومړی حق ستا دی، نورو ته پنځلس زره او تا ته دیارلس زره او دا هم درسره نهایت احسان کوم.
ما خوله ورانه را ورانه کړه، خو یوه اوونۍ یې وخت را کړ چې سوچ وکړم او وروستی خبره ورته وکړم.
نن چې له دفتره ستړی ستومانه راغلم، نو په کور کې یې راته پیغام پرېښی و چې یو ځل یې ووینم.
له ورتګ سره سم یې وویل: وه ناځوانه!، تا خو زه نه په ښه پوه کړم او نه په بد، څنګه شو تابیا دې پخوانی کرایه ناستی دی او د ده په نظر عاجز، ښه او بېوزله انسان دی، نو ځکه ورسره دومره ګزاره کوي؛ خو د ده دې، دې ته هم پام وي چې تر دوو اونیو پورې وخت لري، چې یا به همدا نوې کرایه پرې کوي او یا به هم کور خالي کوي؛ خو که کور خالي کوي، نو د امنیتي حوزو په جریان کې کول، له دې ځایه کډه کول او نوي ځای ته د تللو فورمې ډکول، ضمانت کول او د جنجالونو ګالل یې خپل کار دی، په هغې کې دی نه ورسره همکاري کوي او نه ورته وخت لري، چې دا هم د فشار راوستلو بهترینه وسیله وه.
کرایه ناستي ورته د بازار د خرابوالي، د خلکو د مفلسۍ، سودا نه کولو، خپل سپین ږیرتوب او کمزورۍ ډېرې خبرې په مخ کې کېښودې، خو د ده خبره یوه وه، هېڅ ډول ارزښت یې ور نه کړ او لا یې داسې خبرې ورته وکړې چې د سړي چرت یې نور هم ور خراب کړ، خو وایي تشه لاسه ته مې دښمن یې، چې تش لاس دې دښمن وي،له بل څه ګیله!.
سمسور له هوجرې ووت او سپین ږیرۍ یې له خپلو غمونو او ناخوالو سره یوازې پرېښود، شېبه وروسته یې زوی ټوخي کول او سپین ږیری یې پر پوړیو کښته او تر وره یې ورساوه.
زوی یې غلی راغی او د مور په خوا کې کښېناست، مور ته یې په غوږ کې څه پسه پسه وکړل، خو مور یې په خوله ورته لاس کېښود او د پلار پر لور یې اشاره وکړه چې تیار درته په غوسه دی، تا هم ورسره بې عزته کوي. غلی شه، پلار دې په خپلو کارونو ښه پوهېږي، ته په کې کار مه لره.
سمسور تر سترګو لاندې هر څه ولیدل، خو ځان یې پرې ناګاره کړ او د غرمل پر ښیښه یې سترګې سرېښ کړې، ورو ورو به یې پرده پورته تېروله او نوي شیانو ته به ځیر کېده.
سبا ماښام یې بیا د کور د وره ټالۍ ووهل شوه، ماشومه ورغله او لږه شېبه وروسته یې یوه سپین سړي چې د زینو په راختلو کې یې زګیروي ختل له ځان سره راوسته، سمسور غوښتل له سالونه ووځي چې سپین سړي پرې غږ کړ: مدیر صاحب! تاسې سره مې کار دی که زحمت نه کېږي یو دوو خبرو ته راغلی یم.
سمسور حیران ښځې ته وکتل، لږه شېبه وروسته یې وپېژندله چې د کرایه ناستي مېرمن ده، خو چې دا ولې دومره بېکاره او کمزورې شوې ده؟

# څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي

# سپین سرې (لنډه کیسه)

راغله او که نه؟
بیا مې هم د خولې دُرشي ورانه را ورانه کړه، د ژوند حال مې ورته بیان کړ، ورته مې وویل چې دا پنځلس زره تنخوا به زه کومې اړتیا ته کړم، کرایې ته، خوراک ته، د ماشومانو کالیو ته، روغ و رنځور ته او که نورو اړتیاوو ته؟
خو د سړي یوه خبره وه او چې پوه شو نور مې نو وسه نه شته، د دې میاشتې تر اخره یې د کور د خالي کولو راته وویل.
یاره! دا موږ افغانان ولې دومره ظالمان او بې رحمه یو، ولې د یو چا مجبوریت او بېوزلي نه شو درک کولای، ولې راته پیسې تر هر چا او هر شي ډېر ارزښت لري؟
څنګه به الله پر موږ رحم وکړي، څنګه به دا وطن جوړ شي، څنګه به زموږ حال بدل شي؟، دا حق وینا ده، ترڅو چې یو ولس خپل حال بدل نه کړي الله یې حال نه بدلوي. موږ خپل حال بدلوو، خو منفي او د ظلم پر لور!
ـ والله څه ووایم، حالاتو ته په کتلو دوی هم ګرم نه دي، ورځ تر بلې کرایې لوړېږي، د ځینو خلکو کار ښه دی، حکومت کې غټې څوکۍ او تنخواوې لري، له ولایتونو او نورو هېوادونو یې دلته کډې راوړي، تر دې لوړو کراه ګانو ته یې هم وس رسي، ځیني عام خلک هم ښه کار و بار لري او له بهره هم ورته پیسې راځي.
پر دې سربېره په دې وروستیو بدلونونو کې هم د ډېرو کورنیو بچیان یا خپلوان ووتل، اوس ښه ژوند، امکانات او کارو بار لري او که درې څلور سوه ترې ببرته پر خپل ځای کښېناست، په تمه شو چې ښځه ورته څه وایي؟
سپین سرې په ډېر تکلیف د لارې پر سر پر غالۍ کښېناسته. سمسور او مېرمنې یې ډېر ورته وویل چې پر توشک کښېني، خو ښځې قسم وکړ چې څوک یې له دې ځایه ونه ښوروي، غالۍ نرمه ده، ورسره عادت او راحت ده.
سمسور دوې سترګې په ښځې کې ګنډلې وې چې ورته څه وایي، خو پام یې شو چې پایڅې یې شړېدلي او کمیس یې هم دوه درې ځایه سوری دی. سپین سرې هڅه کوله پټ یې کړي، خو ټیکرۍ یې کوچنۍ او ریتاړه و، چې یو ځای به یې پټ کړ، بل به ښکاره شو او چې بل به یې پټ کړ، نو سر به یې لوڅ شو.
سمسور په نزاکت پوه شو، سترګې یې بلې خوا ته واړولې، خو غوږونه یې بوخ کړي وو چې سپین سرې ورته څه وایي؟
بوډۍ په ډېر تکلیف سپورې شونډې پرانیستې، د زړه شیمه یې نه وه، په اواز کې یې درد، رنځ، ناروغتیا او ناهیلی له ورایه معلومېدې، د زړه په زور یې خبرې کولې. په ډېر تکلیف او مکرجنه خو ډارنه مسکا یې له سمسوره ګیله وکړه چې د دې د ناروغۍ پوښتنه یې هم نه ده کړې او نه یې مېرمن پوښتنې ته ورغلې ده. مرګې حال وه، په خپلو سترګو یې عزرائیل ولید، خو الله به یې لا په دې دنیا کې رزق ساتلی وي، خو خیر غریب خلک همداسې وي، څوک یې پوښتنه نه کوي او نه یې مرګ ډېر اړین وي.
غوښتل یې چې همداسې ادامه ورکړي، خو د سمسور ټنډې ته یې پام شو، ژر یې خپلې خبرې بدلې کړې او د ویل شوو خبرو بخښنه یې وغوښته.
په عاجزانه ډول یې وویل: ټوکې مې کولې، هیله منه یم چې خوا مې در بده کړې نه وي او یا مې خفه کړې نه اوسئ، بیا یې هم پرله پسې بخښنې وغوښتې، ترڅو چې سمسور په تروه تنده ورته وویل پروا نه کوي، خیر دی، الله دې روغه ستړه درکړي.
سپین سرې زړه نازړه د مېره خبره وریاده کړه چې تاسې ورته د کرایې د زیاتوالي خبره کړې، خو زه درته قسم کوم چې موږ د همدغې کرایې د ورکړې توان هم نه لرو، نه یوازې د کرایې د ورکړې توان نه لرو، بلکې ډېر ځله په درې وخته ډوډۍ کې یو دلته خپلو خپلوانو ته راولېږي د دوی پرې ښه کار روانېږي.
پاتې یو موږ او غمونه مو، نو الله دې پر موږ رحم وکړي، زموږ وضعیت بې خونده دی، نه یوازې زما او ستا، بلکې د اکثریتو پخوانیو دولتي مامورینو همدا حال دی. ته څه وایې چې ښوونکي او یا د دغو نورو وزارتونو مامورین به تر موږ ښه وي؟
ابداً نه، خو څوک یې په زړه زغمي او یو نیم هم په کې زموږ غوندې شکایت کوي او الله ته عذر و زارۍ، خو یاره زموږ اعمال هم لکه چې خراب شوي، یوه دعا مو هم قبوله نه شوه، ورځ تر بلې د ژوند کړۍ را سختېږي. په خدای قسم چې دا ډېره موده مې ماشومان ناروغان دي، ډاکټر ته مې نه دي بیولي، بس کله په ګولۍ، کله په یوناني درملو او کله هم په ځان کنولو ځان تېر باسو. مور خوارکۍ یې په عاجزۍ وواېي چې یو ځل یې باید ډاکټر ته بوځو، خو چې تندي ته مې وګوري، نو بېرته خبره واخلي او ډاډ راکړي، چې اندېښنه ونه کړم، الله به یې له همدغو شیانو سره ښه کړي، خو په زړه کې دواړه ښه پوهېږو.
یاره! زه نه پوهېږم چې پر موږ افغانانو ولې الله نه رحمېږي، کومه داسې لویه ګناه یا خطا مو کړې چې الله په کې نیولي یو؟، ټول عمر باید ټوپک او زور حاکم وي، ټول عمر باید ولس دا ناخوالې او ستونزې وګالي؟!
سمسور په ظاهره له اخک سره خواخوږي وکړه، خو په زړه کې یې ترې څکه مننه وکړه چې د ده یې هم خپل کرایه ناستي (دار) ته ور پام کړ. کور ته په وخت دوه یې هم نه شو برابرولی او ماشومان په دې او هغې تېر باسو. آن په کراتو مراتو مو له چای او اوبو سره ډوډۍ خوړلې، خو چا ته مو څه نه دي ویلي، ځکه دا هر څه د الله له لوري دي او اجر یې هم له هغه سره دی. موږ ته به یې داسې مقرره کړې وي.
بوډۍ په ډېر عُجز او نا امیدۍ سمسور ته وکتل او ورته یې وویل: مېړه مې یو ساده کلیوال انسان دی، ډېر ځله په دې هم نه پوهېږي چې خپله خبره ستاسې په څېر د معززو او محترمو انسانانو په وړاندې څنګه ووایي، نو ځکه ترې خبرې ګډې وډې شي او روغه خبره بې خونده او خرابه کړي. زه ډاډه یم چې ستاسې پر وړاندې به یې هم همداسې ګستاخي کړې وي، نو ځکه یې له امله زه له تاسې او ستاسې له عزتمنې کورنۍ څخه بخښنه غواړم او ډاډ درکوم چې په راتلونکې کې به داسې بې ادبي نه کوي او له تاسې هم په ډېر درنښت هیله کوم چې د هغه په خاطر پر ما او ماشومانو مې ورحمېږئ. په خدای قسم که تر دې د پورته کرایې وس ولرو، خیر... د...د د د اوس.....لپـــ....اره...په همدې کرایې راسرررره....ګوزاره وکړئ، چې وس مو پیدا شو زه خپله راځم او بیا ستاسې په خوښه کرایې ته غاړه ږدم.
زه ډاډه یم چې ستاسې په څېر انسانان ډېر لوی او نرم زړه لري، الله تاسې ډېر لوی او مهربان خلق کړي یاست او تل مو زموږ په څېر د بېوزلو او غریبو خلکو لاسنیوی کړی او کوئ یې، همدا علت دی چې تل درته الله ښه او ارام ژوند درکړی دی. دعا کوم چې تل همداسې ارام او سوکاله اوسئ.
البته زه منم چې ستاسې کور د زرګونو او لکونو روپو ارزښت لري، د همدې لپاره مو پرې دومره لګښت کړی چې یو څه درته وګټي، خو موږ دومره تورزن او وسمن نه یو چې ستاسې حق او روا غوښتنه پوره کړای شو. هوښیاران وایي چې مشران تل له بخشش او صدقو سره ښه ښکاري، د کشرانو او ساده خلکو خبرې زړه ته نه نیسي، نو تاسې زموږ مشران یاست، که له موږ نه کومه ګناه یا خطا شوې وي، د هغې راته بخښنه وکړئ او له خپل حضوره مو مه ناهیلي کوئ.
خو د سمسور خبره یوه وه، په ښکاره یې ورته وویل: خاوند دې ډېر ساده او بېباکه سړی دی، مګر را رسېدلو سره سم له واره یې ماشوم پسې ولېږه چې کرایه ناسته دې یو ځل دی ووینې.
ماښام قضا د کور ټالۍ ووهل شوه، لږه شېبه وروسته یې زوی مېلمه هوجرې ته بیولی و او پلار ته یې د کرایه ناستي د راتګ وویل.
سمسور د هوجرې لومړۍ خونې ته ورغی، ور یې بېرته کړ، ګوري چې څوک نه شته، بېرته یې ور پورې کړ، له دویمې خونې یې خبرې واورېدې، په غوسه شو، په ډونګا یې زوی ته بد رد وویل چې داسې خېرن خلک ولې په داسې لوکسه هوجره کې کښېنوي؟
دوی تل هغه سپینچکه غالۍ او توشکونه خېرنوي، ټول عمر یې پښې خېرنې او بویناکه وي، تر یوې اوونۍ یې بیا بویونه نه ځي او بل دا چې دا هلک به څه وخت په دې پوهېږي چې دا خونه د خاصو مېلمنو لپاره ده، نه هر چا ته؟
په تروه تنده هوجرې ته ننوت، له سترې مه شي او عادي خبرو وروسته یې سړي ته پام شو چې جامې یې د خېرنوالي ترڅنګ څو ځایه شکېدلي هم دي. په شنو، سپینو او سرو تارونو یې د ګېنډې هومره ټکونه ورکړي دي، خو بیا هم ځای ځای یې په کې خپته، مټ او تخرګونه ښکاري. د پوندو چاودې او د پلاستیکي څپلکو چاپو او تورو لیکو یې د سمسور پر مغزو سم د څټک ګوزارونه وکړل، لږ پاتې ول چې د مېلمه په مخ کې پر زوی ور هی کړي، خو په برګ برګ لیدلو سره یې زوی پوه کړ چې لویه اشتباه یې کړې ده.
سمسور له کرایه ناستي سره لنډې خبرې وکړې، د خپل کور د ارزښت، موقعیت او سهولتونو صفات یې ورته بیان کړل او په اخر کې یې په لنډو ټکو د کرایې د زیاتوالي خبره ورته وکړ.
د دې ترڅنګ دا احسان یې هم پرې بار کړ، دا چې ډېره موده یې په کور کې اوسېدلی دی، نو تر بل کرایه ناستي یې ورته زر روپۍ کمې کړې دي، خو پرې د فشار راوستلو په خاطر یې دا هم تر غوږو ورتېره کړه چې دوه درې نورو کسانو ورته د ده یو نیم چنده کرایه ویلې ده، خو دا چې دی یې ما یې خبرې زړه ته ونه نیولې، خو که بیا یې داسې بې ادبي وکړه، نو بیا یې په چل پوهېږم چې څه ورسره وکړم او پاتې شوه د کرایې خبره، دا خبره مې ستا خاوند ته هم وکړه او تا ته یې هم پاکه وایم چې کور مو ډېر را خراب کړی. ما سره مو ژمنه کړې وه چې د کورنۍ شمېر مو زیات نه دی، خو اوس چې ګورم هر وخت مو د مېلمنو ټېله جوړه کړې وي، تل دې لوښې او لمسیان را خوشې وي او راته مزاحمت کوي، چیغې او شور یې جوړ کړی وي، زه یې له کاره ویستی یم.
بچیان دې هم کله په یو شي او کله په بل شي پسې را روان وي، ستاسې له لاسه موږ ارام نه لرو. مخکې مو هم همدا د نیستۍ او بېوزلۍ خبرې کولې، د اوبو او خدماتو پیسې مې در معاف کړې. اوس مې هم ستاسې مراعت کړی، زر روپۍ مې درته کمې کړې، په داسې حال کې چې ستاسې د کرایې یو نیم چنده نور خلک راکوي او همدا پوښتي چې تاسې کله وځئ؛ خو زه د الله او د الله د رسول له ډاره تاسې ته څه نه وایم، خو چې ستاسې وضعیت ته ګورم، نو چې کور راته خالي کړئ دا به د دواړو په ګټه وي، خو وړاندې تر خالي کولو کوم شیان مو چې خراب کړي، هغه به راجوړ کړئ، د کور رنګ مو هم شرمولئ، هغه به هم را رنګ کړئ. دوې اوونۍ وخت لرئ چې ځان ته د بل کور غم وکړئ. زه فکر کوم له تاسې سره نوره ګزاره نه کېږي.
د سپین سرې پر مخ مرې اوښکې راغلې، په خوارې خولې یې سمسور ته وکتل، غوښتل یې څه ووایي، خو زړه او اوښکو یې اجازه ور نه کړه، همداسې ګونګه او ورانه خوله پاتې شوه، په تکلیف له ځایه پورته شوه، هېڅ ورته د اوبو او چایو ست و نه کړ او نه څوک ورسره د بدرګې لپاره پورته شول. ښځه زنګه ځولی روانه شوه، سمسور له ډېرې غوسې لستوني بډ وهل، تر شونډو لاندې یې بد رد وویل، غوښتل یې اودس تازه کړي چې ناڅاپه یې سپین سرې بیا په مخ کې را شنه شوه او ده چې ترڅو ځان پوه کاوه ښځه یې پښو ته غورځېدلې وه.
سمسور هم حیران شو چې څه وکړي، مېرمنې ته یې چیغه کړه، بوډخه در پورته کړه، دا د لېونی لور اوس ما په غم اخته کوي، د خدای په غضب دې ککړه شي!؟
پای

# زېرى

علمي، څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

**مسئول مدیر:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کتنپلاوی:** اکاډمیسین څېړنپوه دوکتور سید محي الدین هاشمي، څېړنوال رحیم الله حریفال، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان

www.asa.gov.af

**برېښنالیک:** zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com

**د اړیکي شمېرې:** ۷۸۰۸۳۱۹٦۰ (۰) (۹۳+)
۲۰۲۲۰۱۲۷۹ (۰) (۹۳+)

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د یوې ګڼې بیه:** پنځه افغانۍ

● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په لیکوالو پورې اړه لري.

د ۱۴۰۴ ل.کال، د غبرګولي میاشتې ۵-٦مه ګڼه | پرله پسې ۴۴۵-۴۴٦ مه ګڼه


# د سایل تخلیق او تخلیقي هنرمندي


خادم حسین عامر


د تهذیبونو تاریخ په اصل کې د انساني تاریخ ارشیف دی. دا داسې هر انساني عمل ته وایي چې پکې یو غېر متوقع حېرانتیا وي- چې یو منظمه ازادي لري- چې تضاداتو کې وحدت راولي چې یو بوږنونکی دریات وي- یو نشه ایزه فضا جوړه وي او د یو مستقلې خوشحالی علامت وي-

تخلیق د تخیل او تصور په نیلي سور دا ټول مهمونه ترسره کوي- نو ځکه تخیل په خاص کې د عام په مجرد کې مجسم ،په خیال کې امېج، په تازه او نوي رنګ کې راغونډوي- څومره څومره چې تخیل تېز او ژور حساسیت لري، د اجزا د راغو قوت لري او د الوت داسې غېر متوقع تېزي او زور لري چې منصوبه بندي یې نه وي شوي نو هغه هومره تخلیق لوړ او خوندور وي- د کالرج د وېنا مطابق یو لوړ تخلیق کار انساني روح ټول په حرکت کې راولي- په شکل کې چې د روح او احساس ټول صلاحیتونه د یو بل ملاتړ وي- او یو نوی وحدت او جسم تر لاسه کوي- دا عمل اورېدونکی ، لوستونکی او کتونکی داسې دنیا ته والوځوي چې نوې هم وي او زړه هم وي، ښکاره هم وي او پټه هم چې عمل هم وي او فکر هم او دا د دې وجې چې خیال هم وي او امېج هم د خیال یو خوندور او متحرک امېج تخلیق کولو کې تخلیق کار د تخلیق وسیلو (لفظ،رنګ او ساز وغېره) نه کار اخلي خو چې امېج تخلیق شي نو دا وسیلې غېر ضروري شي- سایل د پښتو د دې شېل بډل وطن هغه تخلیق کار دی چې د ډېر وخت نه ډېر متحرک امېجونه تخلیق کوي- مجردو تخلیقاتو نه مجسم شکلونه،چې پکې د زمان او مکان ټول حساسیت ، تنظیم او نوی والی راغونډ وي- دا د یو دور د معروض داسې تصویرونه وړاندې کوي چې پکې د تخیل رنګونه ځای په ځای شیندلي وي- د سایل سندرې لکه

ته د خورو زلفو ګېډۍ په سر ولاړه اوسه
د ښایستونو د سپرلو په غر ولاړه اوسه
زه دې تصویر د ګل په پاڼو جوړومه، مازیګر دی
نن دې په ګوتو د خپل فن سینګارومه، مازیګر دی

او د سایل نظمونه لکه "په ما مه راځه اختره" او "کله مې پیرزو شې په بمونو پېښوره!"

د دې نظمونو امېج په یقیني توګه د دغې ټول دور یو داسې تصویر ذهن کې جوړوي چې ژوندی هم دی او متحرک هم- د داسې ژوندي تخلیقونو امېجونه تخلیق کولو دپاره سایل ځانګړي لفظي علامتونه لري- او دا زما په خیال د ده د شاعرۍ د ټولو نه غټ خصوصیت دی- دا هنر سایل له نورو تخلیق کارو نه په ښکاره جدا کوي- یوازې دا نه بلکې د علامتونو موسیقیت او ترنم د سایل هر نوي تخلیقي امېج ته حرکت هم ورکوي او د خپل تخلیقي روایت سره تړي یې هم ! لکه "لمبه"

ستا د نظر د لمبو سېوري ته لږ خوب کومه
ستا دې په خپل حسن قسم وي جانه ویښ مې نه کړې
لکه لیتکی ځان بلوم اخستی شپې هم یم
لکه پتنګ اوده په ځانګه د لمبې هم یم
د وینو رنګ په لمبو څنګه ښکاري
تاله تصویر په ګلاب جوړ کړم که نه ؟
څنګه به د خپل احساس په سرو د لمبو کې نه سوزم
ځانګې مې د ګل هسې ارمان په سنګینونو کې

دغسې نظر، شونډې، سپرلی، ګل، وطن، کلی، کور او ښار د سایل د تخلیقي امېج شوخ رنګونه دي- او دا د سایل د حساسیت او هنرمندۍ وسیلې هم دي- لکه

سوزم لمبه کېږم لېونۍ تندې اخستی یم
شونډو ته مې شونډې رانزدې که لېونی مې که
زه چې ستا د چاودو شونډو سپورو زلفو ویر کوم
ګوره خلق دې ته د وطن سندرې نه وایي
د یار په شونډو وچ پاړونه
د دې وطن د ګلستان تصویر دی
د دې سپرلي په ګل ورین نظر کې
زما د تار په تار ګرېوان تصویر دی
ما لېونی هم غلی کولی نه شي
ستا د لېوني نظر د زور ژبه
ولې دې د مخ لمبې خاموشه شوې
دا د اوره چا پرې کړه د اور ژبه
ستا په غوڅو شونډو د سپرلي قیصه
پېژني پرهر د زړه ټکور ژبه

ټي- اېس- ایلیټ چې د فنپارې د کلاسیکیت خبره کوله نو دوه څیزه یې لازم ګڼل- دا دواړه په اصل کې د یوېمنبع نهراوتي دي- یو هغه کلاسیکي فنپاره چې د وخت څپېړو ته ځان نیوی شي او په هر دور کې خپل وجود برقرار وساتي هغه دې په یو وخت کې تاریخي - تخلیقي تسلسل هم لري او بل دې هغه څنګه چې زمکې سره نزدې تړون لري- دغسې افاقي حقیقتونه هم خپله لمن کې ځایولی شي- دې ته د اسانتیا دپاره دې بحث کې کلتوري حساسیت هم ویلی شو- دا خبره به حقیقت ته نزدې وي که مونږ ووایو چې کله سایل خپل تخلیقي سفر شروع کولو په هغه تاریخي مرحله کې د داسې قسمه تخلیقي اظهار روایت په پښتو شاعرۍ کې موجود نه و- د حمزه خان شینواري، صنوبرحسېن کاکاجي، اجمل خټک، قلندرمومند او شېر علي باچا په تخلیقونو کې د سایل نه مخوړاندې د کلتوري حساسیت اظهار شوی وو- او دغسې د پښتو د نړۍ نه بهر په هند کې سجاد ظهیر، فېض احمد فېض او د دې ډلې نورو نامتو لیکوالو تخلیقونو کې د داسې قسمه اظهار اعلیٰ نمونې موجودې دي-او دا ممکنه ده چې سایل ددې ټولو نه په خپل خپل ځای اثر اخستی دی-خو د سایل خپل تخلیقي شخصیت دومره ارت بېرت او پراخه دی چې کلتوري حساسیت اظهار یې هم په خپل تخلیقي انداز کړی دی- که دې ته مونږه د اردو نقادانو په ژبه مزاحمتي اظهار اوایو نو دا به د دې پراختیا لنډول وي-سایل د کلتوري حساسیت اظهار څه په دا رنګ کړی دی-

څومره نادانه ده په ډک محفل کې
د اوښو لار په لوپټه ورانوي
په ډمامه د کلي خلق راغلل
چینار یې وسېزو چینه ورانوي
کله یې لمبې ګلونه ، کله یې ګلونه اور
زار شمه ترې ګل دی که لمبه زما د خاورې ده
زما ګرېوان یې ریښې ریښې کړو، زما وجود یې اندام اندام کړو
پردی ټوپک دی پردی سنګر دی هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم
کوڅه، کوڅه مې د زړه په وینو روزانه لامبي زه ورته ګورم
ما په ما وژني، کافر هنر دی هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم
یو شان پښتون دی، یو شان وجود دی که د کابل دی که پېښور دی
یو مې زړګی دی بل مې ځیګر دی هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم

دا ټولو ته پته ده چې د سایل د کلتوري حساسیت دا اظهار یو وخت کې د عام اولس تخیل داسې موټي کې اخستی و چې د زرګونو جلسې به یې لړزولې زما په خیال هم دا هغه هنرمندي وه چې سایل یې د پوره یو نسل د ذهني تحریک سرخېل کړو- دا خوش بختي سایل په خپل تخلیقي زور او هنر ګټلې ده-

لکه د کائنات ارتقا د نورو څیزونو د سایل تخلیقي شخصیت هم وخت تر وخته ارتقا کړې ده که چاپ شوې مجموعې مونږ د سایلد مختلفو دورونو یادګارونه ګڼو نو دا څرګندېږي چې د سایل وړومبۍ مجموعه " د لمبو په سېوري" کې د ذاتي احساسونو اظهار ډېر ښکاره دی- د دې مجموعې لوستو نه وروستو سایل باندې د دردېدلي روماني ښار ګمان کېږي- دلته د سایل د فن باریکۍ په وړومبي ځل مخې ته راغلي دي لکه :

په تلو کې لږې سترګې را ړولی شې که نه شې
ټوټې مې د زړګي پېوندولی شې که نه شې
لوګی دې د نظر د تندرونو نه جانانه
دا پاتې دنیاګۍ مې سېزلی شې کۀ نه شې

"د ښائستونو د سپرلي بادونه" او " د ویر په چم کې وار د نغمو دی"د سایل د دویم دور شاعري ده- د دې دور شاعرۍ کې سایل د معروضی او سماجي ماحول تخلیقي تصویرونه راښکلي دي- دې کې حرکت، تېزوالی او ترنم دی- خو په قافیو کې یې ځای بې ځایه بدعتونه هم موجود دي لکه چې یې د "لمبې او "لیوني" او د "مېکدې" او د "تندي" قافیې تړلي دي خو دا هم یو حقیقت دی چې د دې دور شاعرۍ په لکونو زړونه درزولي وو او په زرګونو ذهنونه یې مشتعل کړي وو- لکه چې وایي :

شمعې مو جامونه کړل په ټول محفل مو وویشل
عام مو کړل په خلقو کې د فکر د لمبو شراب
خیر د شعور وبرېښېدو لاړ د هر تصویر په مخ
هر ښایست رڼا رڼا او هر نظر ګلاب ګلاب

یا لکه چې وایي:

چې د خپل ذهن د سرو وینو نه سپرلې جوړوي
چې د زړګي د څړیکو مستې ترانې جوړوي
چې د وختونو په اورونو کې ګلونه ګوري
چې اسویلی راغونډوي ترې نه ورمې جوړوي
چې فضاګانې یې اثر د لیونتوبه اخلي
د زړه درزا نه چې د سوي ژوند نغمې جوړوي
چې دا به څوک وي لېونی غونډې فنکار ښکاري

د سایل د دریم دور شاعري چې په "د وینو رنګ په لمبو څنګه ښکاري" او "تاله تصویر په ګلاب جوړ کړم که نه" کې چاپ ده د هنرمندۍ، فني باریکۍ او د تخلیقی پراختیا اعلیٰ نمونې لري.د دې دور شاعري که یو طرف ته د وړومبی او دویم دور حسین امتزاج دی نو بل طرف دلته سایل د شناخت مسٔلې سره مخ دی- دلته د سایل یقین په شک او خفګان کې بدل شوی دی، ځکه لهجه یې مړاوې وي خو دننه سکروټې لري؛ لکه:

پرون په څومره لویه بیعه خرڅیدل سرونه
مونږ لېوني وو چې بې ځایه مو شیندل سرونه
د سرو ګلونو غېږ کې خوب کول مشکل خو نه و
مونږه د غرونو سره هسې جنګول سرونه
د وینو رنګ مې کړو جامه د ګلاب
اوس په ځان رقص کوي نغمه د ګلاب
لکه کوڅه کوڅه زما د وطن
په وینو پاڼه پاڼه سره د ګلاب
چې د نظر لمبې پرې مړې کړم که نه
ټق له خماره چوي کاسه د ګلاب

**مأخذونه:**


۱. Deitch, es David. Critical Approaches to Literature, Longman Group Ltd: uk. 1981.
۲. Helpem, Dian F. Thoughts and Knowledge, Lawrence Erbium Associates: 1996.
۳. یاسر، خالد اقبال. سه ماهي ادبیات (ګڼه ۳۱_۳۴)، اکاډمي ادبیات: اسلام اباد، ۱۹۸۵م.
۴. سایل، رحمت شاه. د لمبو په سیوري، اولسي ادبي ټولنه: مردان، ۱۹۸۵م.
۵. سایل، رحمت شاه. د ښایستونو د سپرلو بادونه، ...، بې تا، ....
٦. سایل، رحمت شاه. د ویر په چم کې وار د نغمو دی، ...، بې تا، ....
۷. سایل، رحمت شاه. د وینو رنګ په لمبو څنګه ښکاري؟، جدون پریس: پېښور، ۱۹۹۲م.
۸. سایل، رحمت شاه، تا له تصویر په ګلاب جوړ کړم که نه، وحدت پریس: پېښور، ۱۹۹۴م.


# منځګړې ژبه (لنګوافرینکا)
# Lingua Franca


جاوید افتاب


منځګړې یا درېیمه ژبه هغې ژبې ته وایي چې د دوو کسانو یا ډلو تر منځ د افهام او تفهیم لــــه پـاره کارېږي، خو دا ژبه به له دغو دواړو کسانو څخـه د یوه هم مورنۍ ژبه نه وي، بلکې درېیمه ژبه بـه وي. دا په هغه صورت کې کېږي چې دواړه لوري د یـوه بل پر مورنۍ ژبه ونه پوهېږي، نو افهام تفـهـیـم لـه پاره داسې درېیمه ژبه انتـخـابـوي چـې دواړه پرې پوهېږي. د بېلګې په توګه: د افغانستان او تـرکـیـې واکمنان چې د یوه او بل هېواد پر مـلي او رسـمـي ژبو نه پوهېږي، نو که له یو بل سره پـه عـربـۍ یـا انګلیسي ژبه خبرې وکړي، دغې درېیمې (عربـۍ یـا انګلیسي) ژبې ته منځګړې (لنګوا فرینکا) ژبه وایـي. انګلیسي په نـړیـوالـه کـچـه او عـربي د اسلامـي هېوادونو په کچه منځګړې ژبې دي؛ ځکه معمولاً د دولتونو په کچه د هېوادونو استازي چې له یـو بـل سره په رسمي او نارسمي ناستو، کـنـفـرانسـونـو او ډېپلوماتیکي لیدنو کې مخامخ کېږي، دواړه لوري د یو او بل پر مورنۍ ژبو نـه پـوهـېـږي، نـو اکـثر پـه انګلیسي یا عربي ژبو افهام او تفهیم کوي.

د لنګوا فرینکا شالید په مختلفو پېړونو او بېلابېـلو سیمو کې موندل کېږي او د دې اصطلاح بـېلابېـل اشتقاق هم ښودل شوی دی چې یو یې داسې دی چې دا په اصل کې د عربي "لسان الفرنج" (د فرنګ یا غرب ژبه) اوښتې بڼه ده. په مختلفـو زمـانـو کـې بلابېلې ژبې په ځینو سیمـو کـې د مـنـځـګـړې یـا اړیکڅې په توګه کارېدې چې په دوی کې عربي هم شامل وه. د لنګوا فرینکا د ترکیب دویم اشتقـاق دا ویل شوی چې د "لنګوا" (Lingua) لغوي معنا ژبـه او "فرانکا/فرینکا" د فرینک (Frank) خلکو ژبې تـه ویل کېږي. د دې ژبې آر ګرېدونکو ته "فریـنـکـیـان" هم ویل کېږي. دا ژبه فرینکیانو د څلورمې او اتمـې عیسوي پېړیو تر منځ موده کې ویله او دا د ژبـو لـه جرمانیک (Germanic) کورنۍ سره تړاو لري. (۱۹۵:۱)

یعنې د لنګوا فرینکا لغوي معـنـا د "فـریـنـکـیـانـو ژبه" (Frankish Language) شوه.

دا ژبه په منځنیو پېړیو کې د روم بحیرې پـه څـنـډو کې د سوداګریزو موخو په پار ویل کـېـده او د دې ژبې بنسټ تر ډېره پر هغو ژبو ولاړ و چې وروسته د نوې ایټالوي او پرووِنسي (Provencal) ژبو پـه بـڼـو را څرګندې شوې. پرووِنسي ژبه د جنـوبي فـرانسـې په سیمو، په تېره په پرووِنس (Provence) کې ویـل کېده. وروسته لنګوا فرینکا د اصطلاح په توګه ټولـو هغو ژبو ته وکارول شوه چې د خلکو تر منځ بـه د منځګړې یا ګډې ژبې په توګه ویل کېده.

انګرېزي اوس د نړۍ منځګړې ژبه بلل کېږي، لاتینـي او یوناني ژبو یـو وخـت پـه غـرب او شرق کـې د عیسویت منځګړو ژبو بڼه خپله کړې وه او تقریباً زر کاله یې دوام وکړ. په شرقـي افـریـقـا کـې زرهـاوو قبایل دي چې خپلې - خپلې ژبې لري، خو د شرقـي افریقا په ډېرو سیمـو کـې اکـثر خـلـک لـړه ډېـره سواحلي ژبه هم د دویمې ژبې په تـوګـه زده کـوي؛ ځکه هلته په ټولو سوداګریزو مرکزونو یا مـنـډیـانـو کې سواحلي د منځګړې ژبې په توګه ویل کېږي. پـه دې ډول هـنـدي اوس د هـنـدوسـتـان او اردو د پاکستان منځګړې ژبې دي؛ ځکه د دې خطې ژبـنـۍ صورتحال ډېر پېچلی دی.(۱۹٦:۱)

د منځګړې (لنګوا فرینکا) ژبې کاروَنه څو وجـوهـات هم لري چې تر ټولو مهمه یې دا ده چې په دې کـې مشترک ژبني، دیني، سیاسي، کلتوري، اقتصادي او علمي چارې او مسایل مهم رول لوبوي چې اغېز یې په دې ټولو برخو کې موږ تاسې پـه وروسـتـیـو څـو لسیزو کې تجربه کړی دی. په تېره په ژبني، کلتـوري او مذهبي برخو کې د ګاونډیو له خوا زموږ پر ځـوان نسل مثبت او منفي دواړو اغېزو یې بـحـث کـېـدای شي.

منځګړې ژبه د هېوادونو دننه هم پـه هـغـو پـراخـو سیمو او ټولنو کې کارېږي چې ګـڼـژب ویـونـکـي (د مختلفو ژبو ویونکي) لري؛ ځکه دوی د یو او بـل پـر مورنۍ ژبو نه پوهېږي، په داسې حالت کې د هـېـواد په ملي او رسمي ژبه افهام او تفهیم کوي، لـکـه پـه برصغیر (هند او پاکستان) کې پـه اردو، د جـنـوبي افریقا په سیمو کې په سواحلي او په منځني ختیـځ کې په عربۍ ژبه خبرې کېږي.(۲۱۵:۲)

یا لکه زموږ په هېواد کې چې د لږکیو ژبـو ویـونـکـي چې په خپلو منځونو کې سره په دري یا پښتو خبرې کوي.

که یوه ژبه ګڼ بېلابېل او پېچلي ګړدودونـه لـري او ویونکي یې یو د بل پـر ګـړدود پـه بشپـړ ډول نـه پوهېږي، یعنې په افهام او تفهیم کـې ځـنـډ پـیـدا کېږي، نو په دې صورت کې د همدې ژبـې مـعـیـاري ګړدود د دوی له پاره منځګړې ژبه ده.

په هېواد کې دننه په رسمي توګه د یـوې مـنـځـګـړې ژبې ټاکل مثبت اړخونه هم لري او منفي هم. مثبت یې د ملت تر منځ یووالی دی او مـنـفـي هـغـه یـې بېلوالی او تعصب دی چې ښه بېلـګـه یـې زمـوږ د ګاونډي هېواد یوه جالبه تجربه ده. د پاکسـتـان لـه تاسیس څخه د یاد هېواد ملي ژبه اردو غوره شـوې ده، په داسې حال کې چې اردو ژبـه تـر شا هـېـڅ اصلي ویونکي او قوم نه لـري. دا کـار شـعـوري د یووالي ساتلو په پار شوی؛ ځکه که هغه وخت ملي یا رسمي ژبه پنجابي غوره شوې وی، نو بنګالیانو بـه نه منله او که بنګالي غوره شوې وی، نـو پـنـجـابي، سندي، بلوڅي او نورو اکثریت قومونو ته د منلو نـه وه، ځکه یې دغه مصنوعي او منځګړې (اردو) ژبـه غوره کړه. خو بیا هم یو وخت بنـګـالـیـانـو اعـتـراض وکړ چې بنګالي باید رسمي ژبه شي، چې بالاخره پـر ځینو نورو اصلي مسایلو سربېره دا اعتراض هـم د دې لامل شو چې بنګله دېش له پاکسـتـان جـلا او خپلواک هېواد شو.

رام بابو سکسینه د اردو ژبې په اړه وایي: »اردو پـه ټوله معنا د ټول هندوستان منځګړې ژبه ده، یعـنـې عامه ژبه ده؛ ځکه د یاد هېواد په ډېرو هغو سیـمـو کې هم پرې خبرې او هم پرې خلک پوهېږي چـې د هغوی مورنۍ ژبه نه ده.«

**مأخذونه:**


۱- پاریکه، رؤف. لسانیات کی بـنـیـادی مـبـاحـث، سیټي بک پواینټ: کراچي، ۲۰۲۳م.
۲- صدیقي، ابوالاعجاز حفیظ. کشاف تـنـقـیـدي اصطلاحات، دویم چاپ، اداره فروغ قـومـی زبـان: اسلام اباد، ۲۰۱۸م.



ZERAI
Afghanistan Science Academy (ASA)

Editor - In - Chief:
Associate Professor
Dr. Muhammad Ishaq Khawreen

Assistant:
Assistant Prof. Pashtoon Pashtoon

Compose and Design:
Dr. Khawreen

Address: Center for Languages and Literature, Institute of Pashto Language and Literature (ASA)
Shahr - e - Now Kabul, Afghanistan
Contact: (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
Email:zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com